دَ اسلامی میاشتو په حقله یو دعوتی او موضوعاتی رساله ، د محرم میاشت تاریخی پس منظر، فضیلت احکام او په دے کښې مروجه بدعات .

# د محرم تاریخی پسِ منظر او مرّوجه بدعات


مرتب
مولانا مفتی مُحمّد ایاز درّانی
حفظہ اللہ
صاحب



العلم پبلیکیشنز

# د محرم تاریخی
# پسِ منظر او
# مرّوجه بدعات

ابومعاویہ مولانا مفتی محمد ایاز حفظہ اللہ

العلم پبلیکیشنز محلہ جنگی پشاور

091-2590315

# فهرست مضامین


د محرم فضیلت او دهغې تاریخی پسِ منظر ........................... 3
د محرم حقیقت :...................................................... 9
د محرم الحرام روژه او اسلامی تعلیمات : ................................ 10
په لسم محرم باندې په اهل وعیال باندې د رزق فراخوالې :............... 13
د محرم بدعات او خرافات : ............................................ 14
د ایصالِ ثواب دپاره دمحرم تخصیص :.................................. 15
د اوبو سبیل لګول او شربت څکَوَل : .................................... 19
د شهادت واقعات بیانول : ............................................ 22
تعزیه جلوس،ماتمی جلوس ویستل او دهغې د کتلو دپاره تلل: ............ 25
زینت پریخودل، خوشحالی او واده ښادی او نکاح ............................ 29
د لسم محرم چهټیانې :................................................ 31
نور غیر شرعی معمولات :............................................. 32
خلاصه د بحث : ...................................................... 32
د مسلمانانو دپاره د فکر کولو ساعت ! ................................... 36

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمَ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ الْاَتْقِيَاءِ اَمَّا بَعْدُ

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا [مائده: ۳]

”نن ما ستاسو دپاره ستاسو دین مکمل کړو او په تاسو مې خپل نعمتونه پوره کړل اوستاسودپاره مې اسلام بطورِ دین خوښ کړو“.

تَرَكْتُ فِيْكُمْ اَمْرَيْنِ لَنْ تَضِلُّوْا مَاتَمَسَّكْتُمْ بِهِمَا كِتَابُ اللّٰهِ وَسُنَّةُ رَسُوْلِهٖ [مشکوة]

”زه په تاسو کښې دوه څیزونه پرېږدم کله پورې چه تاسودا په مضبوطئ سره نیسئ نو هیڅ کله به ګمراه نه شئ، یو دالله کتاب(قرآن) او دویم د الله د رسول الله ﷺ سنت“.

## د محرم فضیلت او دهغې تاریخی پسِ منظر

عمومًا دا تصور کولې شی چه دمحرم تقدّس او احترام او ددې وجه د حرمت، د سیدناحسینؓ شهادت دې، حالانکه دا خبره بالکل بې بنیاده ده.په اسلام کښې ددې میاشتې فضیلت د کلنو نه راروان وو، بلکه د اسلام نه مخکښې په مخکښنی دینونو کښې هم ددې دفضیلت،احترام او تقدس خیال ساتلې شو.یو خو په دې وجه سره چه دمحرم شمار په هغه څلورو دحرمت په میاشتو کښې کیږی دکومو ذکر چه قرآن کریم داسې کړې دې چه :

اِنَّ عِدَّةَ الشُّهُوْرِ عِنْدَ اللّٰهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِيْ كِتٰبِ اللّٰهِ يَوْمَ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ مِنْهَا اَرْبَعَةٌ حُرُمٌ [التوبة: ۳۶]

”بې شکه دالله تعالی په نزد (دالله تعالی په علم کښې) دمیاشتو

تعداد دهغې ورځې نه دولست دې کله نه چه الله تعالی زمکه او آسمان پیدا کړې دې او په هغې کښې څلور دعزت والا دی".

ددې څلور میاشتو نه مراد د احادیثو او اقوال دمفسرینو په رو سره ذوالقعده،ذوالحجه،محرم او رجب دې. څنګه چه فرمائیلې شوې دی:

هِيَ ذُو الْقَعْدَةِ وَ ذُو الْحَجَّةِ وَالْمُحَرَّمُ وَرَجَبُ وَمِنْهُ قَوْلُهُ صلى الله عليه وسلم فى خُطْبَتِهِ حَجَّةِ الْوِدَاعِ اَلَا اِنَّ الزَّمَانَ قَدْ اِسْتَدَار كَهَيْئَةِ يَوْمَ خَلَقَ اللهُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ اَلسَّنَةُ اِثْنَا عَشَرَ مِنْهَا اَرْبَعَةُ حُرُمٌ ثَلَاثُ مُتَوَالِيَاتٍ ذُو الْقَعْدَةِ وَذُو الْحَجَّةُ وَالْمُحَرَّمُ وَرَجَبُ مُضَرَ الَّذِىْ بَيْنَ جَمَادِى وَشَعْبَانَ۔ [تفسیر ابی سعود کذافی تسهیل لابن جوزی و مدارک للنسفی و تبصیر الرحمن للمهایمی]

بهرحال هسې خو دکال دولس میاشتې او د هرې میاشتې دیرش ورځې الله تعالی پیدا کړې دی،خو الله تعالی په خپل فضل وکرم سره دپوره کال بعضې ورځو ته خصوصی فیضلت ورکړې دې اوپه دې ورځوکښې څه مخصوص احکام ئې مقررکړې دی. دا د محرم میاشت هم داسې یوه میاشت ده کومه چه قرآن کریم د حرمت میاشت ګرځولې ده. په ذکر شوې پاسنی آیت کښې الله تعالی دا ښودلې دی چه څلور میاشتې داسې دی چه دحرمت والا دی،په هغې کښې یو دمحرم میاشت ده. خاص طور باندې د محرم لسمه ورځ کوم ته چه په عام طور باندې "عاشوره"وئیلې شی،چه دهغې معنی ده "لسمه ورځ" دا ورځ د الله تعالی رحمت او برکت لره په خصوصی طور باندې پورته کونکې ده.

دویمه ددې میاشتو عزت او حرمت د اولې ورځې نه په دینِ ابراهیمی کښې راروان وو ترڅې چه مکې والا به هم دې میاشتوته د قدر په نظر سره کتل خصوصًا محرم لره به ئې ډیره محترمه میاشت ګڼړله. څنګه چه په صحیح بخاری کښی دی:

**كَانَ يَوْمُ عَاشُورَه تَصُوْمُهُ قُرَيْشُ فِي الْجَاهِلِيَّة**

يعنی دجاهليت په زمانه كښې به قريشو هم د عاشورې روژه نيوله.كله چه اسلام راغې نوهغه هم دې عزت او حرمت لره برقرار اوساتلو.

دريمه خبره داه چه ددې محرم تقدس او اهميت د موسى عليه السلام په شريعت كښې ددې واقعې نه پس نورهم زيات شو كله چه موسى عليه السلام او بنی اسرائيلو ته دمحرم په دې مياشت كښې په لسم تاريخ د نجات ملاويدو په خوشحالئ كښې دالله تعالى دشكر اداكولو په طور په دغه ورځ د روژې نيولو حكم اوشو كوم چه دسيدناموسى عليه السلام قوم اومنلو، نودا طريقه دعزت اواحترام په بنی اسرائيلو كښې راروانه وه. دنبی عليه السلام د بعثت نه پس كله چه نبی عليه السلام مدينې ته تشريف يوړلو نو هغوی (يهوديان)ئې په روژه نيولو اوليدل. دنبی عليه السلام په تپوس ورته جواب ملاؤ شو چه په دې ورځ باندې موسى عليه السلام ته نجات ملاؤ شوې وو او هغوی روژه نيولې وه. دحديث الفاظ دادی:

**عَنْ اِبْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ: قَدِمَ النَّبِيُّ الْمَدِيْنَةَ فَرَأَى الْيَهُوْدَ تَصُوْمُ يَوْمَ عَاشُوْرَاءَ، فَقَال: (مَا هٰذَا) قَالُوْا: هٰذَا يَوْمٌ صَالِحٌ، هٰذَا يَوْمٌ نَجَّى اللهُ بَنِيْ اِسْرَائِيْلَ مِنْ عَدُوِّهِمْ فَصَامَهُ مُوْسٰى۔ قَالَ: (فَاَنَا اَحَقُّ بِمُوْسٰى مِنْكُمْ) فَصَامَهُ وَاَمَرَ بِصِيَامِهِ۔** [صحيح بخاری: كتاب الصوم]

سيدناعبدالله بن عباسؓ فرمائی چه رسول الله ﷺ هجرت كولو سره چه كله مدينې ته تشريف يوړلو نونبی عليه السلام اوليدل چه د عاشورې[ ۱۰ محرم]په ورځ يهوديان روژه نيسی. تپوس ئې اوكړو : څه خبره ده؟ [د روژې نيولو څه وجه ده]نو يهوديانو عرض اوكړو چه دا

ښه ورځ ده،په دې ورځ باندې الله تعالی بنی اسرائیلو ته ددشمن نه نجات ورکړې وو، بس په دې وجه موسی علیه السلام روژه نیولې وه[په دې وجه مونږ هم روژه نیسو] په دې باندې نبی علیه السلام ارشاد اوفرمائیلو : نوبیا دموسی علیه السلام په شان دعمل کولو زه ستاسو نه زیات مستحق یم.

نونبی علیه السلام په دې ورځ روژه پخپله هم اونیوله او صحابو ته ئې هم د روژې نیولو حکم ورکړو.

څلورمه اهمه خبره دا چه ددې میاشت نوم نبی علیه السلام شهر الله یعنی دالله تعالی میاشت کیخوده او دالله نسبت او اضافت دهغه دخاص مخلوق نه علاوه بل چاطرفته نه شی کیدې څنګه چه محمد،ابراهیم،اسحاق اویعقوب وغیره انبیاء علیهلم السلام اضافت دبنده کیدو سره دې[ یعنی دا ټول نبیان عبادالله د الله بندګان دی] دغه شان الله طرفته دهغه دکور بیت الله نسبت دې،دیوې اوښې نسبت الله تعالی طرفته شوې دې کوم ته چه په قرآن کښې ناقة الله وئیلې شوې ده. [ځکه چه هغه یوه خاص اوښه وه]نوکله چه دا میاشت دالله تعالی طرفته په نسبت کولو سرخاص کړې شوه او دغه شان په ټولو اعمالو کښې د روژې نسبت الله تعالی طرفته کړې شوې دې نو مناسب به داوی چه د دې میاشتې نسبت هم دالله طرفته ددغې خاص عمل روژې په وجه سره اوکړې شی.

یوه معنی داهم وئیلې شوې ده چه ددې میاشت نسبت الله تعالی طرف ته په کولو کښې اشاره ده چه ددې حرمت دالله تعالی طرف نه دې. بل چاته اختیار نشته دې چه ددې حرمت لره بدل کړی څنګه چه

دجاهلیت په دَور کښې عربو دې لره حلال کولو او ددې په ځاې به ئې صفر لره د حرمت میاشت جوړوله. اشاره اوکړې شوه دې خبرې طرفته چه دا دالله تعالی میاشت ده الله دې لره دحرمت میاشت جوړه کړه. بس دهغه دطرف نه په مخلوق کښې چاته اختیار نشته چه هغوی دې لره بدله کړی.

[لطائف المعارف فیمالمو اسم العام من الو ظائف از: ابن رجب حنبلیؒ]

ددې نه علاوه په محرم کښې ډیر اهم واقعات دحسین د شهادت نه مخکښې دتاریخ په پاڼروکښې واقع په نظر راځی لکه :

۱۔ نبی کریمﷺ لره دمکې کافرانو په دې میاشت کښې په اول محرم باندې په شعب ابی طالب کښې محصور کړې وو.

۲۔ خلیفه ثانی دسیدناعمرفاروق شهادت په اول محرم باندې شوې وو.

۳۔ دمشهورصحابی رسولﷺ سیدناابوایوب رضی الله عنه وفات هم په اول محرم باندې شوې وو.

ددې نه پس په اتفاقی طور باندې ددې محرم په لسم تاریخ باندې د نبی علیه السلام دنمسی سیدناحسین رضی الله عنه شهادت حادثه هم دسبائی ټولګی د ذهنی سازش په مکروفریب سره واقع شوه. [چه دهغې تفصیل د بنده په رساله ”د واقعه کربلا حقیقت“ کښ کتلې شئ]. بهرحال ددې بحث نه معلومه شوه چه دې لره دحرمت میاشت د شهادتِ حسین د یا د کربلا د واقعې د وجې نه جوړول صحیح نه دی. خو رافضیانو سبائی خلقو دخلقو په ذهنونو کښې په غیرمحسوس طور باندې یو خو دا دروغ کینولې دی چه دمحرم عظمت او حرمت دشهادتِ حسین په وجه سره دې[چه ښکاره دروغ دی څنګه چه

مخکښې تیرشو] او دویم دا غلط خیال ئې دخلقو په زړونو کښې کینولو کوشش کړې دې چه په دنیا کښې د شهادتِ حسین په شان د مظلومیت بل کومه سانحه نه ده شوې، حالانکه ددې نه زیات زړه سواندې او دمظلومیت بې شماره واقعات په تاریخ اسلام کښې ځاې په ځاې موجود دی چه په هغې کښې یوه واقعه د خلیفة الرسول امیرالمؤمنین سیدعثمان دشهادت ده، چه د هغې دمظلومیت مثال بیشکه او بې شبه چرته هم نه ملاویږی،خو باوجو ددې ظلم او جبر دې حادثې او مظلومیت نه مسلمانان دومره قدرې بې خبره دی چه ګویا دهغوی په نزد دا فرش وعرش لره خوزیدونکی سانحه نه ده واقع شوې.

آیاتاسو کله دچا ژبه ددې مظلومیت داستان لره بیانوؤنکې او دچاغوږ ددې طرف توجه کوؤنکی لیدلی دی، دچا قلم لره مو ددې ځان قربانونکی حادثې په لیکلو،د تاریخ په پاڼړو کښې ددې واقعې تفصیل کتلو دپاره دچا نظر لره توجه ورکوؤنکې،په دې مظلومیت باندې دچا په زړه کښې د احساس درد پیدا کیدو او دچا سترګو لره کله په اوښکو رابهیدلو لیدلې دی؟

ددې نه زیات دا چه د رسول اللهﷺ قدمونو مبارکو لره په طائف کښې په وینو رنګ بنګ کیدل، په جهاد کښې دکفرسره مخامخ کیدل د درنده صفت کافرانو په لاسونو باندې دنبی علیه السلام غاښونه مبارک شهیدان کیدل،مخ مبارک زخمی کیدل، اودهغې نه نهٔ اودریدونکې وینه جاری کیدل،دګوتې نه وینه بهیدل،او دغه شان د ډیروانبیاء علیهم السلام په ظلم او بې دردئ سره شهیدکیدلو بیان او

جانباز اوجانثار اصحابِ رسول ﷺ او خلفائے اسلام دمکّار او رافضي غنده ګانو په لاسونو د شهید کیدلو بیان اوپه دې سره درمندکیدل کله اوریدلې دی؟ ځکه چه نن زړونه او دماغ ددې زړه سواندې واقعاتو حقیقت باندې پوهیدو لره نه خوښوی؟ ځکه چه نن ژبې اوقلم ددې واقعاتو رښتونی تصور پیش کولو اودحقیقت ظاهرولو نه قاصر دی؟ ځکه چه لاس نن د رښتونی تاریخ لټولو همت نه لری؟ او ولې په سترګه کښې هغه نور پاتې نه شو چه دتاریخ ددې مسلّمه حقیقتونو مشاهده اوکړی؟ وجه ددې ټولو داده چه ددې سفاکانه حالاتو او واقعاتو په علم سره راتلوسره د اسلام سره ددشمنئ او د رافضیت دمکارئ او تقیې پرده اوچتیږی. او همدا وجه ده چه دې د اسلام دشمنانو دداسې بې شماره مذموم مقاصدو د حصول دپاره د انبیاء علیهم السلام اودباقی صحابه کرامو مرتبه او شان د مسلمانانو د نظر نه د پټ ساتلو په خاطر دې یوې واقعې [شهادتِ حسین] لره دغسې په غلط انداز سره راخکلې ده او ډیر په عجیبه انداز سره ئې پیش کړې ده او دې دواړو اهداف لره ئې نشانه جوړه کړه چه نه خو نن په انبیاؤ او صحابو باندې چه د ظلم زیاتی کوم غرونه راغوزولې شوې وو په نظر راځی او نه ددوی د اسلام سره د دشمنئ مکروفریب پرده اوچتیږی. غور اوکړئ چه دا ددې رافضیت زهر نه دی نو نور څه دی؟

**د محرم حقیقت:**

په محرم کښې دبدعاتو او خرافاتو او افراط وتفریط اصل وجه ددې په باره کښې دمستنددینی معلوماتو کمې دې. آیا دا میاشت محترمه او معظمه ده یا منحوسه او معیوبه؟.

شیعه ګان دې میاشتې لره منحوس ګنړی،شائد چه دهغوی په نزد شهادت بد څیز وی! چونکه د سیدناحسین شهادت په دې میاشت کښې شوې دې په دې وجه شیعه ګان په دې میاشت کښې څه تقریب،دخوشحالئ کار،وادهٔ او نکاح وغیره نه کوی. ددې برعکس د اسلام په نزد دمحرم میاشت محترمه،معظمه او مقدسه ده. په دې بناء اوس بحثیت مسلمان دا کتل پکار دی چه اسلام ددې په باره کښې مونږته څه تعلیمات راکړې دی، دکومو کارونو ئې حکم کړې دې اودکوموکارونو نه ئې منع کړې ده دې دپاره چه په اوامرو عمل،اوکړې شی او دنواهیو نه ځان اوساتلې شی او په کوموڅیزونو چه شریعت خاموش دې هغه پریخودلې شی.

## د محرم الحرام روژه او اسلامی تعلیمات:

د شریعتِ اسلام نه ثابت،جائز بلکه سنت عمل د محرم په لسم تاریخ د[عاشورې] روژه نیول دی. کله پورې چه د رمضان روژې نه وې فرض شوې، هغه وخت پورې د "عاشورې" روژه نیول په مسلمانانو باندې فرض وه، روستو چه کله د رمضان روژې فرض شوې نو هغه وخت د عاشورې د روژې فرضیت منسوخ شو، خو نبی علیه السلام د عاشورې روژه نیول سنت او مستحب اوګرځول. څنګه چه مخکښې په حواله د بخاری شریف د سیدناابن عباس د روایت نه ثابت شوه چه نبی علیه السلام ته کله د موسی علیه السلام په دې ورځ د روژې نیولو علم اوشو نو نبی علیه السلام پخپله هم روژه اونیوله او صحابه کرامو ته ئې هم د روژې نیولو حکم اوکړو.

سيدناابوموسی اشعری نه روايت دې چه :

كَانَ يَوْمُ عَاشُوْرَاءَ تَعُدُّهُ الْيَهُوْدُ عِيْدًا، قَالَ النَّبِيُّ صلی الله عليه وسلم فَصُوْمُوْهُ أَنْتُمْ۔

[ بخاری]

''يهوديان به د عاشورې ورځ لره اختر شمار كوله[ او روژه به ئې نيوله] نبی عليه السلام هم حكم وركړو چه تاسو خلق هم په دې ورځ روژه نيسئ''.

سيدناابوقتاده نه روايت دې چه نبی عليه السلام اوفرمائيل :

''ماته د الله تعالی درحمت نه اميد دې چه كوم سړې دعاشورې په ورځ روژه اونيسی نو ددې عاشورې په روژې سره دتيرشوی يوكال ګناه معاف كيږی''. [ مشكوة : ۱/۷۹]

دنبی عليه السلام په ژوندمبارك كښې چه به كله هم د عاشورې ورځ راتله،نونبی عليه السلام به روژه نيوله،خو د وفات نه مخكښې چه كومه ''عاشوره'' راغله نونبی عليه السلام د عاشورې روژه اونيوله او ورسره ئې دا اوفرمائيل چه په لسم محرم مونږ هم روژه نيسو او يهوديان هم نيسی او ديهوديانو د روژې نيولو وجه هم هغه وه چه په دې ورځ بنی اسرائيلوته الله تعالی د موسی عليه السلام په ذريعه سره د فرعون نه نجات وركړې وو،ددې دشكرانې په طور باندې يهوديان په دې ورځ روژه نيسی.

بهرحال! نبی عليه السلام ارشاد اوفرمائيل چه مونږ به هم روژه نيسو او يهوديان هم په دې ورځ روژه نيسی چه دهغې په وجه سره لږ شان مشابهت كيږی،په دې وجه كه زه آئنده كال ژوندې پاتې شوم دصرف دعاشورې روژه نه بلكه دې سره د لسم محرم الحرام نه يوه ورځ

مخکښې یعنی دنهم محرم الحرام یا یوه ورځ روستو یعنی دیوولسم محرم الحرام روژه به نیسم، دې دپاره چه دیهودیانو سره مشابهت ختم شی،خو د راتلونکې عاشورې نه مخکښې دنبی علیه السلام وفات اوشو او نبی علیه السلام ته په دې باندې دعمل نوبت رانغلو،خو نبی علیه السلام ددې خبرې ارشادفرمائیلې وو،په دې وجه صحابه کرامؓ دعاشورې په روژه کښې ددې خبرې اهتمام اوکړو او د نهم محرم یا یوولسم محرم یوه روژه ئې ورسره ملاؤ کړه، او دې لره ئې مستحب اوګرځوله او ځانله دعاشورې روژې نیولوله ئې دنبی علیه السلام ددې ارشاد په رڼړا کښې مکروه تنزیهی او خلاف اولی اوګرځوله یعنی که څوک سړې صرف د عاشورې روژه اونیسی نو ګناهګار به نه وی، بلکه هغه ته به دعاشورې د ورځې ثواب ملاویږی، خو چونکه دنبی علیه السلام خواهش د دوؤ روژو نیولو وو په دې وجه دهغه په خواهش پوره کولوکښې بهتردادی چه یوه روژه ورسره بله یوځاې کړې شی.

په صحیح مسلم کښې دسیدناابوهریرهؓ نه روایت دې رسول اللهﷺ ارشاد اوفرمائیلو:

”د رمضان المبارک نه پس افضل ترینې روژې ددې میاشتې روژې دی کوم ته چه تاسو محرم وائې او دفرض مونځونو نه پس افضل ترین مونځ قیام اللیل دې[یعنی دتهجدو مونځ]“.

داحدیث ددې خبرې وضاحت کوی چه افضل ترینې روژې د رمضان المبارک نه پس چه اونیولې شی نوهغه دالله تعالی دمیاشت محرم نفلی روژې دی داهم احتمال دې چه درمضان المبارک نه پس په مکمل طور باندې د روژو نیولو افضل میاشت دمحرم میاشت ده څه روژې

داسې دی چه په کومه مياشت کښې په څه ورځو باندې نيولې شی نوهغه دنورو ورځو په نسبت زيات فضيلت لری څنګه چه ديومِ عرفې روژه يا د ذی الحجې د عشرې نهه روژې يا د شوال شپږ روژې وغيره.

ددې خبرې په تائيدکښې امام احمد او امام ترمذی يو حديث ذکر کړې دې چه دسيدناعلی رضی الله عنه نه روايت دې يوسړی نبی عليه السلام ته راغلو او عرض ئې اوکړو: اې دالله رسولهﷺ ماته دڅه داسې مياشت په باره کښې خبر راکړئ چه درمضان المبارک دمياشتې نه پس زه دهغې روژې نيسم.

نبی عليه السلام ارشاد اوفرمائيلو : "که چرې ته درمضان المبارک د روژو نه پس روژې نيول غواړې نو دمحرم روژې نيسه. څکه چه هغه دالله تعالی مياشت ده اوپه دې کښې يوه ورځ داسې ده په کوم کښې الله تعالی ديو قوم توبه قبوله کړې وه اودهغې نه علاوه دنورو خلقو هم توبه قبلوی.[لطائف المعارف ]

**په لسم محرم باندې په اهل وعيال باندې د رزق فراخوالې:**

په محرم کښې په دې ورځو [ ۹،۱۰ يا ۱۱،۱۰]د روژې نيولو نه علاوه په حديث کښې دا هم راغلې دی چه :

مَنْ وَسَّعَ عَلٰی عِيَالِهٖ يَوْمَ عَاشُوْرَةَ وَسَعَ اللّٰهُ عَلَيْهِ السَّنَةَ كُلَّهَا۔

"په دې ورځ [ىوم عاشوره] چه څوک هم په خپل اهل وعىال باندې رزق فراخه کړی نو پوره کال به ئې الله تعالی رزق فراخه وی".

خو په دې روايت کښې کلام دې. فقيه العصرمفتی رشيداحمد لدهيانوی په دې روايت باندې بحث کولو سره وئيلې دی چه :

”دې لره مشهور محدثینو غیرثابت کړې دې، بفرضِ ثبوت ددې نه په دې وجه ځان ساتل لازم دی چه خلق دې لره ثواب ګنړی،حالانکه شریعت په دې کښې ثواب نه دې خودلې. دې لره ثواب ګنړلو سره به داکار بدعت جوړ شی“.

كُلُّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ وَكُلُّ ضَلَالَةٍ فِي النَّارِ۔

که څوک داسې اووائی چه زه خو دا کار صرف د رزق دفراخئ دپاره کوم زه دې لره د ثواب په نیت نه کوم نو هغه ته به اووئیلې شی چه ستا په دې کارسره دهغه خلقو تائید کیږی چه دثواب په نیت سره دا کار کوی په داسې وخت کښې دفقې دقاعدې مطابق ددې پریخودل واجب دی، دارنګه حکم دې:

اِذَا تَرَدَّدَ الْحُكْمُ بَيْنَ سُنَّةٍ وَبِدْعَةٍ فَتَرْكُهُ وَاجِبٌ

”کله چه معامله په سنت اوبدعت کښې دائر وی نو پریخودل ئې واجب دی“.

او دلته خو معامله دسنت اوبدعت نه ده بلکه دجائز او بدعت ده نو دلته په طریق اولی پریخودل به واجب وی.

[احسن الفتاوی:ص۱/۳۹۵]

بس ددې روڅې نه علاوه په محرم کښې څه عمل دشریعت نه ثابت نه دې بدقسمتئ نه نن بدعات اوخرافات او دشیعه ګانو نظریاتو او اعمالو باندې مشتمل کارونه ضروری او رواج ګرځولې شوې دې.

**د محرم بدعات او خرافات:**

په محرم کښې ډیر زیات بدعات،خرافات اور رسومات په پابندئ سره کولې شی دکوم ثبوت چه دشریعت یعنی قرآن وسنت او دصحابو نه

نشته دې، مثلاً د ایصال ثواب دپاره محرم او خاص قسم خوراکونه [کهیر، کهچړی(وریژې)،پئ،شربت او سبیل لګولو] تخصیص، ماتم تعزیه او د ذوالجناح جلوس،محرم منحوس(سپیرۀ) ګنړل،زینت پرېخودل،واده ښادی نه کول، په یزیدباندې لعن طعن کول،دشهادت دروغ قصې او وفات نامه،جنګ نامه وغیره بیانول وغیره وغیره. دلته دهغې نه څو دمشهورو او مرّوجو بدعاتو د تذکرې نه پس د علمائے کرامو اقوال او دفتاوې پیش کولې شی.

## د ایصالِ ثواب دپاره دمحرم تخصیص:

ایصاَل ثواب بذاتِ خود جائزکار دې. خیرات،صدقات او د نیکۍ ښیګړې شریعت په حدودوکښې څه کار هم کولو سره ثواب مړی ته بخشلې شی خو دمحرم د۹،۱۰،۱۱تاریخ تخصیص یا په دې میاشت کښې د سیدناحسینؓ روح ته ایصال ثواب په خاطر روټۍ پخول،کهیر ، کهچړی تیارول وغیره په څو وجهو سره باطل دی.

۱ـ یوخو په عام طور باندې د سیدناحسینؓ په نوم باندې نذرونیاز په نیت سره پیش کولې شی،څنګه چه په اوریدو کښې راځی چه نذرِخدا او نیازِ حسینؓ خوپه دې باندې پوهیدل پکار دی چه دغیر الله نذرونیازحرام بلکه شرک دې. او په قرآن پاک کښې د سورة البقره آیت(۱۷۳)اِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيۡكُمُ الۡمَيۡتَةَ وَالدَّمَ وَلَحۡمَ الۡخِنۡزِيۡرِ وَمَاۤ اُهِلَّ بِهٖ لِغَيۡرِ اللّٰهِ ”بیشک په تاسوباندې مرداره،وینه، دخنزیر غوښه او په کومه چه دالله تعالی نه سیوا دبل چانوم اخستلې شوې وی هغه حرامه ده“ لاندې راځی. چه دهغې په باره کښې ابن نجیم ابوحنیفه ثانی فرمائیلې دی چه :

اَلنَّذْرُ عِبَادَةٌ وَالْعِبَادَةُ لِغَیْرِاللهِ کُفْرٌ       [ بحر الرائق ]

"نذر عبادت دي او عبادت دللّٰه نه سیوا دبل چا دپاره کول کفر دي".

۲۔ که څوک اووائی چه په محرم کښې مونږ دسیدناحسین رضی الله عنه نذر نه ورکوو، بلکه دالله تعالی په نوم باندې روټۍ وغیره تیارولو سره د حسین رضی الله عنه دایصال ثواب په نیت سره ئې ورکوو نو داهم په دې وجه سره صحیح نه دی بلکه ناجائزدی په دې وجه دایصال ثواب دپاره په دې میاشت او بیا نهم،لسم،یوولسم وغیره تاریخ لره خاص کول دشریعت نه خلاف دی. ځکه چه په حدیث شریف کښې راځی:

عن ابی هریرة رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قَالَ لاَتَخُصُّوْا لَیْلَةَ الْجُمُعَةِ بِقِیَامٍ مِنْ بَیْنَ اللَّیَالِیْ وَلاَتَخُصُّوْا یَوْمَ الْجُمُعَةِ بِصِیَامٍ مِنْ بَیْنِ الْاَیَّامِ [ مسلم ]

سیدناابوهریره رضی الله عنه روایت دې چه نبی علیه السلام اوفرمائیل: "په شپو کښې دجمعې دشپې قیام[عبادت] دپاره] خاص نه کړې، او نه به نورو ورځو کښې جمعه د روژې دپاره مخصوص کړۍ".

ددې حدیث نه ثابت شوه چه دعبادت دپاره دخپل طرف نه د وختونو او ورځوتخصیص [خاص کول] منع دی.

دغه شان مولانا سرفراز خان صفدرصاحب په خپل کتاب "راهِ سنت" کښې لیکلی دی:

"مړی دپاره دعا او استغفارکول او صدقه اوخیرات ورکول بغیر داجرت نه دقرآن کریم لوستلو سره ایصال ثواب کول،دغه شان نفلی مونځ او روژه او حج وغیره سره مړی ته ثواب رسول [بخښل]جائز او

صحیح دی،خو د ایصالِ ثواب دپاره شریعت د ورځو اور تاریخونو څه تعین نه دې کړې اومخکښې په حوالې سره تیرشوې دی چه دخپل طرف تعین کول بدعت دې. د دلائل اربعه نه یو دلیل هم په دې باندې دال نه دې چه دایصال ثواب دپاره د ورځو تعین ضروری دې". [ راه سنت: ۲۶۰]

لهذا د ایصالِ ثواب دپاره دمحرم تعین اوتخصیص هم ناجائز دې.

مولانامفتی رشیداحمدګنګوهی په فتاوی رشیدیه کښې لیکی :

"د صدقو تقسیمول ددې ورځو په تخصیص سره [په محرم کښې] کول که چرې دا ګڼړی چه نن زیات ثواب دې نو بدعت ضلاله [ګمراه کن بدعت] بناء په دې سره دڅه قسمه طعام تخصیص په کومه ورځ کول لغوه دی". [ فتاویٰ رشیدیه: ۱۳۸]

او بل ځای کښې فرمائی :

"ثواب مړی ته رسول بغیر دقید او تاریخ نه [د وخت مقرر کولو نه بغیر] که وی نو عین عبادت دې او کله چه تخصیصات او التزاماتِ مرّوجه وی نو غیر صحیح او باعث د مواخذې دی".

[فتاویٰ رشیدیه: ۱۶۰]

بس ایصالِ ثواب هروخت کیدې شی دا تخصیص بدعت او لغودې. دریمه خبره داچه دمحرم په میاشت کښې داسې کول د شیعه ګانو فرقې سره مشابهت دې. هغه هم دا خوراک وغیره په دې میاشت او تاریخونو کښې ورکول او سنی مسلمان هم دهغوی په غیرمحسوس اثراتو کښې ګرفتار کیدو سره داسې کوی چه دحدیث په رو سره حرام دی. په حدیث کښې راځی چه :

مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ [مشکوة]

”چاچه دکوم قوم مشابهت اختيار کړو هغه دهغوی نه دې“.

ددې طعام او خوراک تيارولو او ورکولو په باره کښې فقيه العصرمفتی رشيداحمدلدهيانوی څه داسې ليکی:

”د محرم په مياشت کښې بالخصوص په نهم،لسم،يوولسم تاريخ کښې خوراک پخولو سره دحضرت حسينؓ روح ته ايصال ثواب کوی. دا غلطه طريقه ده“.

د ايصالِ ثواب دټولو نه افضل طريقه داده چه دخپل وسعت مطابق نقدرقم په څه کارِخيرکښې اولګوی ياچامسکين ته ورکړی،داطريقه په دې وجه افضل ده چه په دې سره به دهر مسکين حاجت پوره کړی،اوکه دهغه څه ضرورت نه وی نو دصبا دپاره به ئې کيږدی.

دارنګه دا صورت د ريا او نمود نه هم پاک دې. په حديث کښې پټه صدقه ورکولو والا په حقله دا فضيلت راغلې دې چه داسې سړی ته به الله تعالی د قيامت په ورځ دخپل رحمت په سيوری کښې ځاې ورکړی، هرکله چه به بل سيورې نه وی او دګرمې دوجې نه به خلق په خوله کښې ډوب وی.

د فضيلت په لحاظ سره په دويمه درجه کښې دا صورت دې چه دمسکين دحاجت مطابق هغه ته صدقه ورکړې شی،يعنی د هغه ضرورت کتلو سره دې هغه پوره کړې شی دا د ايصالِ ثواب صحيح صورتونه دی اوس دمروجه طريقې قباحتونه واورئ.

١۔ کومو ارواحو ته چه ايصال ثواب کولې شی که هغه لره دنفع اونقصان مالک اوګڼړلې شی نو شرک دې او داسې خوراک په مَآ أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِاللّٰهِ کښې داخل کيدو په وجه سره قطعی حرام دې.

۲ـ عمومًا داخیال کولې شی چه کوم څیز په صدقه کښې ورکولې شی مړی ته به بعینه هم هغه ملاویږی. داخیال بالکل باطل او لغوه دې او مړی ته هغه څیز نه رسی بلکه هغه ته ثواب رسیږی،دارنګه لَنۡ یَّنَالَ اللّٰهَ لُحُوۡمُهَا وَلَا دِمَآؤُهَا وَلٰکِنۡ یَّنَالُهُ التَّقۡوٰی مِنۡکُمۡ کښې هم دا صراحت دې چه داللّٰه تعالی په نزد دقربانۍ دڅاروی غوښه نه رسی بلکه دهغه ثواب [اخلاص او جذبه] رسیږی.

۳ـ په ایصالِ ثواب کښې دخپل طرف نه قیدونه لګولې شوې دی، دصدقې متعین صورت یعنی طعام متعین،میاشت او ورځ متعین،حالانکه شریعت ددې څیزونو تعین نه دې فرمائیلې تاسوچه کله غواړې څه غواړې صدقه کولې شې. دشریعت ورکړې شوې آزادۍ باندې دخپل طرف نه پابندۍ لګول سخته ګناه او بدعت دې بلکه دشریعت مقابله ده. [ احسن الفتاویٰ: ۱/۳۹۱،۳۹۲]

## د اوبو سبیل لګول او شربت څکَوَل:

دمحرم په دې غیرشرعی کارونو کښې یوکار دادې چه په دې میاشت کښې شیعه ګان خصوصًا اوعام خلق عمومًا ددې ماحول په اثر سره ځاې په ځاې سبیلونه لګوی او د نورو سره سره په لاره تلونکو باندې اوبه یا شربت څکَوَلې شی.په دې کار کښې څومفاسد او خرابیانې دی.

۱ـ یو خو څنګه چه ذکر شو چه په داسې کولو دشیعه ګانو سره مشابهت کیږی. دا شربت او د اوبو سبیل دسیدنا حسین رضی اللّٰه عنه په نوم نذرکیږی.

۲ـ ددې نه علاوه دا شربت یا د اوبو سبیل لګول اوتقسیم یو غلطې

عقیدې اوخیال باندې مبنی دې او داچه عمومًا د شیعه ګانو دا خیال دې چه په کربلا کښې اوبه نه وې،سیدنا حسین رضی الله عنه او اهل بیت د تندې په حالت کښې شهیدشوې وو او په هغوی باندې اوبه بندې وې. په دې وجه شربت او اوبه ورکولې شی. اوله خبره خو دروغ ده چه په کربلا کښې اوبه نه وې او اهل بیت دتندې په حالت کښې شهیدشوې وو ځکه چه دشیعه ګانو د فرقې معتبر کتاب جلاء العیون کښې دی چه :

"د لسم محرم په شپه حضرت حسینؓ د فرات نه اوبه راوغوښتلې او په ملګرو باندې ئې اوڅکلې". [ بحواله واقعہ کربلا از علامہ بندیالوی]

بس په کربلاکښې د اوبه نه کیدو خبره سراسر غلطه ده او هغه [شهداء دکربلا] هم دتندې په وجه سره نه وو شهیدان شوې، بلکه په اصل کښې دتندې په حالت کښې شهادت خو د سیّدنا عثمان رضی الله عنه شوې وو په کوم چه دعبدالله بن سباء اولاد [رافضیانو] اوبه بندې کړې وې.

د ظلم دپاسه ظلم هغوی د ځناورتوب انتهاکولو سره جناب ذوالنورینؓ ته دخپل اخستلې شوې کوهی اوبه هم څکلو ته ورنکړې، یقینًا داسې کول هغه خلقو ته دسیدنا عثمان رضی الله عنه د نبی علیه السلام د زوم کیدو په وجه هم حیاء رانغله،خو ابومخنف لوط بن یحي شیعه درافضیانو دې ظلم لره دپټولو دپاره په کربلاکښې تنده،اوبه نه ملاویدل، داهل بیتو او د اوبو پابندی او د یزید د سیدنا حسین رضی الله عنه او داهل بیتو دقتل په دروغه ډرامه جوړه کړه او دخلقو توجه ئې دهغه ځاې نه لرې کړه دې دپاره چه دې ظلم طرف ته دچا خیال لاړ نه شی.

دویم داچه که بالفرض دتندې په حالت کښې اهل بیتو ته شهادت ملاؤ شوې هم وی نو آیاهغوی اوسه پورې تږې دی.؟

په دې باندې رد کولو سره حکیم الامت مولانااشرف علی تهانوی رحمه الله لیکی:

"شربت څښول داهم په خپل ذات کښې مباح وو.ځکه چه په اوبو څکلو کښې ثواب دې نو په شربت څکَوَلو کښې څه خرج وو، خو هم دهغه رسم پابندی په دې کښې ده،او ددې نه علاوه په دې کښې داهل رفض سره تشبّه هم ده په دې وجه دا هم قابل د پرېخودو دی. دریمه په دې کښې یوپټه خرابی داده چه شربت په دې مناسبت سره تجویز شوې دې چه حضرات شهدائے کربلا تږې شهیدان شوې وو او شربت مُسْکِنِ عطش دې په دې وجه دې لره ئې تجویز کړو.ددې نه معلومیږی چه په دې عقیده کښې شربت رسیږی چه دهغې باطل اوخلافِ قرآن کیدل په فصل دوم کښې ذکرشوې دی اوکه دڅکَوَلو ثواب رسیږی نواوس ټول یوشان دی چه دهغوی په ګمان کښې شهدائے کر بلا نعوذبالله تږې دی دا څومره غټه بې ادبی ده،ددې مفاسدو په وجه سره ددې نه هم احتیاط لازم دې". [اصلاح الرسوم: ۱۳۷]

شیخ المشائخ مولانامفتی رشیداحمدګنګوهی دیوسوال جواب داسې ورکوی:

"په محرم کښې دشهادت حسینؓ ذکر کول اګرچه په روایاتِ صحیحه سره وی یا سبیل لګول شربت څکَوَل یاچنده سبیل او شربت کښې ورکول یا پیۍ څکَوَل د روافضو د تشبیه په وجه سره حرام دی".

[فتاویٰ رشیدیه:۱۳۹]

بهرحال د پاسنی مفاسدو په بناء باندې په محرم کښې اوبه او شربت تقسیمول او او ددې قسمه سبیل نه اوبه او شربت څکل منع دی.

## د شهادت واقعات بيا نول:

په محرم کښې خلق دشهادت د قصې بيانولو ډير اهتمام کوی، په دې وجه ډير دروغژن کتابونه مثلاً سرالشهادتين، وفات نامه،جنګ نامه وغيره نه علاوه جاهل او د پيشه ور مقررينو د شهادت او کربلا د واقعاتو کيسټونه هم اوری او اورولې شی.

عوام او علماءِ سو خو پريږده دې پروګرامونو ته حکومتی سرپرستی هم حاصله وی او مختلف ميډياز[ريډيو،ټيلې ويژن،اخبارات،رسائل او جرائد] وغيره کښې ددې مياشتې په نسبت سره مشهور دمن ګهړت قصوپر چارکيږی، مرثيې او نوحې وئيلې کيږی چه شرعًا ناجائز دی چه دهغې نه خو يوطرفته د رافضيت پرچارکيږی او بل طرف ته دعوامو د عقائدو خرابولو کوشش کيږی او د ناپوهه خلقو په ذهن کښ د دې واقعاتو غلط تصوير کينی.دې لره په شرعی طور باندې علمائے حق نه صرف په ژبې سره بيان کړې دی بلکه دهغوی قلم هم ددې مذمت کړې دې. ځنګه چه مفتی رشيداحمدګنګوهی ليکی:

”د محرم په ورځوکښې سرالشهادتين[واقعه کربلا اوپه شهادت باندې يو افسانه او په دروغو باندې مبنی کتاب دې] لوستل منع دی د روافضو سره دمشابهت په وجه سره“. [فتاویٰ رشيديه: ۱۳۹ ]

مولانااشرف علی تهانوی رحمه الله په اصلاح الرسوم صفحه ۳۹ باندې ددې واقعاتو او من ګهړت قصو د مفسداتو خلاصه داسې بيانوی.

”د کربلا د واقعې سره عمومًا موسوم کړې شوې دمظلوميت چه کوم واقعات او قصه ګوئې په ډک بازار کښې بيانولې شی دا ټول د اهل بيتو اهانت دې. داسې قسمه قصې او شهادت نامې په اوريدو او اورلو

کښې د يوګمراه قوم رافضيانو سره مشابهت دې“.
مفتی اعظم هند محمدکفايت الله دهلوی ليکی :
”دشهادت دبيان دپاره مجلس منعقد کول بدعت دې ها! د وعظ او تذکير دپاره جائز دی“. [کفايت المفتی: ۲۰۱/۱]
دغه شان مفتی رشيداحمدلدهيانوی په دې باندې تفصيلی بحث کولوسره وائی :
”په دې مياشت کښې دنورو خرافاتو سره يوداهم ده چه په دې مياشت کښې مجلسونه او جلسې کيږی په کوم کښې دشهادت قصې اورولې شی اوپه دې کښې يوه ګناه خو داده چه د اهل باطل سره مشابهت کيږی چه شرعًا منع دې دارنګه دلسم محرم د روژې په باره کښې په بارګاهِ رسالت کښې دا عرض اوکړې شو چه په دې کښې خو يهود هم روژه نيسی نو وې فرمائيل چه يوه روژه ورسره بله نيسې،نهمه،يا يوولسمه په عبادت کښې هم دمشابهت اجازت نشته.
په دې مجلسونوکښې دويم قباحت دا هم دې چه دشهادت قصې اوريدو سره صدمه او بزدلی پيداکيږی اوپه مسلمانانو کښې بزدلی پيداکيدل داسلام دتقاضو خلاف ده اسلام خو دا غواړی چه په مسلمان کښې بلندهمتی پيدا شی همدا وجه ده چه په قربانۍ کولوکښې دا حکم دې چه څاروې په خپل لاس باندې حلال کړۍ،ګنی دحلالې په وخت باندې موجود اوسۍ،په دې کښې حکمت دادې چه په مسلمانانوکښې عالی همتی اوقوتِ قلب پيدا شی. ښکاره خبره چه کوم سړې په خپلو سترګو باندې چيلۍ لره حلالول اونه وينی هغه به دشمن کله قتل کړی.؟

بیامخکښې لیکی:

"دارنګه دا د ژړا ژړولو والا واقعات چه په دې میاشتو کښې اوروليږ شی اکثر غلط دی په دې وجه دهغې اوریدل خو هسې هم ناجائز دی. په تاریخ باندې د شیعه ګانو تسلط، دهغوی تقیه کوؤنکی منافقان په مسلمانانو کښې ننوځی او د من ګهړت واقعاتو اشاعت کول او د مسلمانانو په زړونو کښې د آلِ رسولﷺ سره غیر معمولی محبت وعقیدت په وجه سره دمظلومیت هرداستان صحیح باور کړو دا داسې امور دی چه ددې په وجه سره د شهادت د واقعې په صحیح توګه انکشاف ناممکن دې تردې پورې چه په ظاهره په معتبراو مستندکتابونو کښې لاندینې تفصیل هم قابل داعتماد نه دې".

د اکثر روایاتو په خپل مینځ کښې تضاد او د عقل او اصول شرع نه د خلاف کیدو په وجه سره یقینًا غلط دی، بلکه دنفسِ شهادت نه سیوا ددې تفصیل شایدچه یوه جزئیه به داسې نه وی چه دهغې په صحت باندې پوره اعتماد اوکړې شی. د نبی علیه السلام د ځیګر (سیدناحسینؓ) د شهیدکولو والو په دې خپلې بدبختئ باندې پرده اچولو او دحقیقت مسخ کولو په غرض سره ئې د دروغژن روایاتو وضع کولو کښې ئې خپل مخصوص مهارت نه پوره کار اخستې دې.

[ احسن الفتاویٰ ۱/ ۳۹۲،۳۹۳]

د سیدناحسینؓ شهادت او د کربلا د واقعه حقیقت او د نور تفصیل دپاره د بنده رساله [د واقعه کربلا حقیقت] نه علاوه دعلامه عطاء اللّٰه بندیالوی او د مولانا عتیق الرحمن سبنهلی صاحب ځانله کتابونه"واقعه کربلا او دهغې پس منظر" کتلې شئ.

## تعزیه جلوس، ماتمی جلوس ویستل او دهغې د کتلو دپاره تلل:

په محرم کښې شیعه ګان تعزیتی جلوس اوباسی او دماتم د مجلسونو اهتمام کوی چه دشریعت سره سل فیصده خلاف دی،خو دافسوس خبره داده چه په دې تعزیه جلوسونو او ماتمی جلوسونو کښې زمونږ سنی مسلمانان رونړه هم شریک کیږی او دهغې دسیل دپاره ځی.

سبائی خلقو دنورو خلقو په ذهنونو کښې دا د خیرکار او ثواب جوړولو سره ایخودلې دې. عوام په دې کښې دثواب په نیت سره ځی، او هلته مرادونه غواړی،جعلی براقِ حسینؓ باندې نذرونه او چړهاؤې اچوی.

دا ټول کارونه دشریعت خلاف ګمراه کن خرافات دی. چه د هغې د تردید دپاره د مفتی رشیداحمد لدهیانوی رحمه الله د احسن الفتاوی [۳۹۳/۱] دا عبارت هم کافی دې:

”په دې ورځوکښې دمسلمانانو ډیرتعداد دماتم دمجلس او دتعزیه جلوسونو نظاره کتودپاره جمع کیږی. په دې کښې څوګناهونه دی، یودا چه په دې کښې دصحابو د دشمنانو او دقرآن ددشمنانو سره تشبه ده دنبی علیه السلام ارشادمبارک دې:

مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ

”چاچه دیو قوم مشابهت اوکړو هغه به دهغوی نه شمار وی“.

هولی[د هندوانو اختر] په ورځو کښې یو بزرګ روان وو هغه د مزاق دپاره په یو خر باندې د پان لاړې اوتوکلې وې فرمائیل په تاباندې څوک رنګ نه اچوی،ځه تاته هم رنګ درکوم. د مرګ نه پس ئې په دې باندې نیول اوشو چه تا هولی مناوهو او په عذاب کښې ګرفتار شو.

دویمه ګناه دا ده چه دې سره ددشمنانِ اسلام رونق زیاتیږی. د دشمنانو رونق زیاتول ډیرلویه ګناه ده نبی علیه السلام اوفرمائیل :

مَنْ كَثَّرَسَوَادَقَوْمٍ فَهُوَمِنْهُمْ

"چاچه دیو قوم رونق زیات کړو هغه دهغوی نه دې".

دریمه ګناه داده چه ښنګه عبادت ته کتل عبادت دې دغه شان ګناه ته کتل هم ګناه ده. یوځل صحابه کرامؓ د جهاد مشق کولو ، حضرت عائشه رضی الله عنها دهغوی ددې عبادت د کتلو خواهش ښکاره کړو، نبی علیه السلام ددې دومره اهتمام اوفرمائیلو چه هغویٌ د پردې په غرض سره اودریدلو. او حضرت عائشه رضی الله عنها د نبی علیه السلام شاته په پرده کښې اودریده د نبی علیه السلام په اوګه باندې به ئې کتل. حضرت عائشه رضی الله عنها چه کله ددې نظارې د سیل کولو پخپله اوخوا شوه نو بیانبی علیه السلام اخوا شو، عرض دا چه دعبادت کتل عبادت او دګناه کتل هم ګناه ده.

څلورمه ګناه داده چه په دې مقام باندې دالله تعالی غضب نازلیږی. د داسې غضب والا ځاې ته تلل هم لویه ګناه ده. یوځل د نبی علیه السلام او دهغوی د صحابه کرامؓ تیریدل په یو داسې کلی په کنډراتو باندې اوشو په کومو چه عذاب راغلې وو، نبی علیه السلام خپل سرمبارک باندې څادر واچولو او سورلی ئې تیزه کړه دهغه ځاې نه زر تیر شو.

هرکله چه سیدالاولین والاخرین رحمة العالمین حبیب رب العالمینﷺ دغضب والا دځاې نه د بچ کیدو دومره اهتمام به کولو نو دعوامو به څه حشر وی، سوچ کول پکارد ی چه که دالله تعالی د دشمنانو په

دې کرتوتونو باندې په دې وخت کښې عذاب راشي نو آياصرف د نظاره کتو دپاره جمع شوې مسلمانان به په دې وخت دعذاب نه بچ شی ؟ هيڅ کله نه بلکه د آخرت په عذاب کښې به هم داخلق دهغوی سره وی، الله تعالی دې د عذاب مستحق بدعملونو نه دبچ کيدو توفيق راکړی. آمين"

مولانااشرف علی تهانوی رحمه الله د تعزيه په باره کښې داسې فرمائی :

تعزيه جوړول. چه دهغې په وجه سره قسما قسم فسق وفجور او شرک پيداکيږی. دبعضې جاهلانو اعتقاد وی چه نعوذباالله په دې حضرت امام حسينؓ په خپله تشريف فرما دې او ددې په وجه سره دهغه مخې ته نذرونياز ايږدو. چه دهغې په مَاۤاُهِلَّ بِهٖ لِغَيۡرِاللهِ داخليدو سره خوړل حرام دی. دهغه په مخکښې په تعظيم سره اودريږی. هغې طرفته نه شاکوی، هغوی ته عرضونه پيش کولې شی دهغې کتلو ته زيارت وائی، او داسی قسمه واهی تباهی معاملات کوی، چه ښکاره شرک دې . ددې معاملاتو په اعتبارسره تعزيه ددې آيت اَتَعۡبُدُوۡنَ مَا تَنۡحِتُوۡنَ په مضمون کښې داخل دی او ماجرا داده چه ياخو ئې بيحده تعظيم وتکريم کيدو يا سمدست هغه ځنګل ته بوتللو سره مات رامات کولو سره برابر کړې شو. معلومه نه ده چه نن داسې بې قدر ولې شو.......واقعی چه کوم کار دشريعت خلاف وی بعضې نادان داسې وائی چه صاحبه دده د حضرت امام عالی مقامؓ سره نسبت شو او دهغه نوم ورسره اولګيدو. په دې وجه د تعظيم قابل شو. جواب ددې دادې چه دنسبت په تعظيم کيدو څه کلام نشته خو کله چه نسبت واقعی وی.

مثلاً دحضرت امام حسینؓ څه لباس وی یا دهغه څه تبرک وی. زمونږ په نزد هغه هم دتعظیم قابل دی او کوم نسبت چه دخپل طرف نه ورته ورکړې شوې وی هغه هیڅ کله هم د تعظیم د اسبابو نه نه دې ګنی صباته به څوک بڅپله د امام حسینؓ د کیدو دعوی اوکړی نو پکار دی چه دهغې نورهم تعظیم اوکړی، حالانکه هغه ته به ګستاخ او بې ادب وائې دهغه به سخت توهین شروع کړی. ددې نه معلومه شوه چه په نسبت ورکولو سره هغه څیز معظم کیږی نه،بلکه ددې کذب په وجه سره زیات د اهانت قابل کیږی په دې بناء باندې انصاف اوکړئ چه دا تعزیه د تعظیم قابله ده یا د اهانت. [اصلاح الرسوم: ۱۳۵]

مفتی رشیداحمد صاحب رحمۃ اللّٰہ علیه فرمائی :

”د شهادت ذکر د محرم په عشره [دمحرم لسو ورځو] کښې کول د روافضو سره دمشابهت په وجه سره منع دی او ماتم او نوحه کول حرام دی. فِی الْحَدِیْثِ نَهٰی عَنِ الْمَرَاثِیْ- الحدیث او خلاف روایتونه بیانول په ټولو ابوابو کښې حرام دی“. [فتاوىٰ رشیدیه: ۱۳۸]

مولانا اشرعلی تهانوی رحمه اللّٰه فرمائی :

”نوحه کول(ویر کول)،چه دهغې په باره سخت وعیدونه راغلی دی. د ابوسعیدرضی اللّٰه عنه نه روایت دې چه لعنت فرمائیلې دې رسول اللّٰه ﷺ په نوحه کوؤنکو او هغې طرفته غوږ ایخودونکو باندې. روایت کړې دې لره ابوداؤد. مرثیه لوستل چه دهغې په حقله په حدیث کښې صفاممانعت راغلې دې. په ابن ماجه کښې دی چه رسول اللّٰه ﷺ مرثیو لره منع فرمائیلې دی. اکثر موضوع روایاتو لره لوستل چه دهغې په نسبت سره سخت وعیدونه راغلې دی“. [اصلاح الرسوم]

## زینت پریخودل ، خوشحالی او واده ښادی او نکاح

په محرم کښې یو خلاف شریعت کار دادې چه په دې میاشت کښې خلق زیب وزینت پریږدی. عام طورباندې خلق نوې جامې نه اغوندی،صفائی نه کوی، حالانکه الله تعالی دې زینت لره چه څوک ئې په خپل ځان باندې حراموی او بندوی په هغې باندې رد کولو سره فرمائی چه دا زینت ولې حراموئ؟

قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِيْنَةَ اللّٰهِ الَّتِيْٓ اَخْرَجَ لِعِبَادِهٖ (الاعراف: ۳۲)

"هغوی ته اووایه چه چا دالله تعالی هغه زینت حرام کړې دې چه هغه د خپل بندګانودپاره پیدا کړې دې"؟

یعنی حرام نه دې بیا ولې ئې په خپل ځان باندې حراموئ او د زینت پریخودلو سره خلق د غم او سوګ په نیت سره تور لباس اچوی چه د سبائیانو سره مشابهت دې. ددې په باره کښې حکیم الامت رحمه الله وئیلې دی:

"په دې ورځوکښې قصدًا زینت (ځان ښکلې کول) پریخودل کوم ته چه سوګ وائی او حکم دهغې په شریعت کښې دادې چه ښځې ته صرف دخاوند په مرګ باندې څلورمیاشتې او لس ورځې یا د حمل وضع کیدو پورې واجب دی او د نورو رشته دارنو په مرګ باندې درې ورځې،باقی حرام دې. بس اوس د دیارلس سوه[۱۳۰۰] کالو نه پس داعمل کول بیشکه حرام دې.دڅه خاص قسم لباس یا څه خاص قسم رنګ کښې د غم اظهار کول[هم حرام ] دی. په ابن ماجه کښې دحضرت عمران بن حصین رضی الله عنه نه په یوه قصه کښې نقل دی

چه په یوه جنازه کښې نبی علیه السلام خلقو لره اوکتل چه هغوی د غم په وجه سره څادرونه لرې کړې دی او صرف قیمصونه ئې اغوستې دی، دا هلته کښې دغم اصطلاح وه. نو نبی علیه السلام ډیر خفا شو او وې فرمائیل : (تاسو ولې)د جاهلیت کار کوئ او دجاهلیت د رسم سره (ولې) مشابهت کوئ، زما خو اراده اوشوه چه تاسو ته داسې بددعا اوکړم چه ستاسو صورتونه مسخ شی". بس سمدست خلقو خپل څادرونه واچول اوبیائې کله هم داسې اونکړل. ددې نه دا ثابته شوه.چه څه خاص وضع او هیئت د غم داظهار دپاره جوړول هم حرام دی. [اصلاح الرسوم: ١٣٦]

په عام طور باندې دګانو بجانو وغیره نه هم په دې میاشت کښې پرهیز کولې شی حالانکه ګانې بجانې نه صرف په دې میاشت کښې بلکه د کال په دولس میاشتو کښې هروخت حرام دی. هغې لره پریخودل دې میاشت لره دسوګ میاشت ګنړلو سره کیږی چه په اصل کښې د رافضیت دژور خو د غیر محسوس اثر نتیجه ده.

"شیعه خلق دې [محرم] لره منحوس ګنړی، او وجه ددې داده چه دهغوی په نزد شهادت ډیر بد او منحوس څیز دې او چونکه د دحضرت حسین رضی الله عنه شهادت په دې میاشت کښې شوې دې په دې وجه په دې میاشت کښې تقریب او خوشحالی او واده نکاح وغیره نه کوی".

بیامخکښې لیکی :

”کله چه دا ثابت شوه چه دا میاشت او ورځ افضله ده خو په دې کښې نیک کارونه ډیر زیات کول پکار دی. نکاح وغیره د خوشحالۍ تقریبات هم په دې میاشت کښې نور هم زیات کول پکاردی، په دې کښې به واده کولو سره برکت وی“.

لهذا په دې میاشت کښې په واده کولو سره به یوخو د باطل قوم سبائیانو مخالفت اوشی چه یو مستحسن کار دې او دویم داچه د یو باطل رسم به بیخ کنی اوشی ځکه یو رسم لره ختمول هم سنت نبوی ﷺ دې.

**د لسم محرم چهټیانې:**

لسم محرم لره په عوامی او سرکاری طور باندې مناوهلې شی. په دې ورځ باندې عامه چهټی وی. په دې ورځ باندې چهټۍ کولو کښې څو قباحتونه دی:

۱۔ یودا چه په دې کښې د اهل تشیع سره تشبه ده، بلکه ددې نه هم زیات دهغوی تائید او تقویت دې.

۲۔ دویم قباحت دادې چه په دې ورځ د اهل تشیع دخپل مذهب دپاره بې پناه مشقت او د سخت محنت مظاهره کوی، ددې برعکس مسلمانان دخپل ټول دینی او دنیوی کارونو نه چهټۍ کولو سره دخپلې بیکارۍ او بې همتۍ مظاهره کوی.

۳۔ دریم قباحت داچه د چهټۍ په وجه سره اکثرمسلمانان دتعزیۍ جلوسونو او دماتم جلوسونو دپاره ځی. [یعنی دچهټۍ په وجه سره خلقو ته په دې منکر کښې د شرکت موقعه ملاویږی.] [احسن الفتاویٰ: ۱/۳۹٤]

## نورغیر شرعی معمولات:

ددې پاسنی بدعاتو او خرافاتونه علاوه نورهم څه غیرشرعی کارونه دی چه خلق ئې په عام طور باندې په دې میاشت کښې کوی. په هغې کښې څو دادی:

د بعضې علاقوخلق په محرم کښې دپخوانی قبرونو مرمت،لیپائی او رنګ او روغن کوی او په قبرونوباندې اوبه اچوی. د کهجورئ ښاخ پرې ایږدی، په قبرونوباندې دال مسور،باجره وغیره اچوی په لسم محرم باندې قبرستان ته په پابندئ سره ځی او دې لره دثواب کار ګنړی. حالانکه دا ټول کارونه ناجائز اودشریعت خلاف دی. ځکه په قرآن وسنت کښې ددې څه ذکر نشته او نه دصحابوؓ،تابعینو او تبع تابعینو او نه د آئمه مجتهدینو نه ددې کولو څه ثبوت ملاویږی.

مفتی رشیداحمدصاحب رحمه الله فرمائی :

"د قبرونو لیپائی کول،اوبه اچول په خیرالقرون کښې د دې په شان کارونو ثبوت نشته.دنبی علیه السلام صحابه چه دین لره بهتر ګنړلو والا وو،ددې کارونو کولو والا نه وو. اوبه اچول یو بې هوده عمل دې او ناجائز دې".[امداد الفتاویٰ: ۵/ ۲۸۹]

## خلاصه د بحث:

زمونږدین اسلام یوکامل دین اومکمل نظام حیات دې. څنګه چه ارشاد ربانی دې:

اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ [المائده: ٣]

نن ماستاسو دپاره ستادین مکمل کړو.

د ژوند هیڅ یوه شعبه داسې نشته چه دهغې په باره کښې زمونږ دین څه تعلیم نه وی ورکړی.د ایمانیاتو او عقائدو مسئله وی یا دعباداتو اومعاملاتو،د واده ښادئ او دغم معامله وی یا په معاشره کښې د اوسیدو طریقې،داخلاقیاتو خبره وی یا د وختونو او ورځو تقدس او احترام طریقه کار،غرض دهرڅیز په باره کښې واضح هدایات موجود دی. دکامل مکمل کیدو سره سره واضح اوصفا تعلیمات دی. نبی علیه السلام اوفرمائیل چه:

تَرَكْتُكُمْ عَلٰى مِلَّةٍ بَيْضَاءَ لَيْلُهَا كَنَهَارِهَا

"ماتاسو ته داسې دین پریخودلې دې چه دهغې شپه هم د ورځ په شان واضحه او روښانه دې".

یعنی په دې کښې څه خبره او مسئله پټه نه ده بلکه دهرې معاملې په باره کښې په کښې واضح او کهلاؤ تعلیم موجود دې. اوس چونکه زمونږه دین مکمل او شریعت واضح او ظاهر دې،په دې وجه مونږته په هرکار اومعامله کښې دخپل دین نه تعلیم او رهنمائی اخستل دی.څنګه چه زمونږ په دین کښې عقائد،عبادات،اخلاق ،معاملات دیو بل حقوق او دحکومت نظام په باره کښې هدایات موجود دی.دغه شان دکومې ورځې په نمانځلو کښ،او دکال میاشتو او ورځو دتقدس او احترام طریقه هم شریعت به مونږ ته ضرور خودلې وی.!

اوس کتل دادی چه نبی علیه السلام او صحابه کرام رضی الله عنهم یو کال یامیاشتې،یادمیاشتې یوې ورځ لره څنګه مناوهلې

ده،اوددې دتقدس او احترام په باره کښې ئې څه تعليمات دى.که دنبى عليه السلام اوصحابه کرامو ددې مياشتې او ورځ په باره کښې څه عمل يا ارشاد موجود وى نوپکار دى چه مونږپه هغې باندې عمل کولو سره دهغې تابعدارى اوکړو اوکه منع کړې ئې يو نو ددې نه بچ شو. ياکه ددې په باره کښې د نبى عليه السلام او صحابه کرامو نه څه ثبوت قولى او فعلى يا د څه کولو يانه کولو ثبوت موجود نه وى، يعنى نقل نه وى ثابت نوددې په باره کښې مونږ ته هم خاموشى اختيارول پکار دى اوڅه نه دى کول پکار، ځکه چه دشريعت او قرآن وسنت او صحابه کرامو نه څه څيز ثابت نه وى نو دا ددې دليل دې چه دا زمونږ په شريعت کښې نشته دې دې لره نبى عليه السلام او صحابه کرامو نه دې کړې ځنګه چه دعلماؤ قول دې:

وَعَدَمُ النَّقْلِ مِنَ النَّبِيِّ صلی الله عليه وسلم يَدُلُّ عَلٰى عَدَمِ فِعْلِهِ

[عنايه، مجموعه وسائل ، مائةمسائل]

يعنى دڅه عمل او څيز دنبى عليه السلام نه نه نقل کيدل [ثابت کيدل] ددې خبرې دليل دې چه داکارنبى عليه السلام نه دې کړې . ځکه که نبى عليه السلام کړې وو نو ضرور به صحابه کرامو کښې چا بيانولو سره مونږ ته رارسولې وو. دغه شان حافظ ابن کثيرپه تفسيرابن کثيرکښې دسورة احقاف لاندې ليکى:

كُلُّ قَوْلٍ وَفِعْلٍ لَمْ يُثْبَتْ عَنِ الصَّحَابَةِ فَهُوَ بِدْعَةٌ

”هرقول وفعل [خبره اوکار] چه دصحابو نه ثابت او نقل نه وی هغه بدعت دې“.

لهذا د محرم په پاره کښې د روژې نه علاوه د نبی علیه السلام او صحابه کرامو نه بل کوم عمل یاکار ثابت نه دې او دا نه ثابت کیدل ددې خبرې دلیل دې چه هغوی داټول پاسنی ذکر شوې کارونه نه دی کړې. او هرکله چه ثابت او نقل نه دی نو بیا دا بغیر دشک او شبهې نه بدعات او خرافات دی . یادساتئ ! بدعت زمونږ دشریعت په رو سره یو ډیر بدقبیح کار دې. په حدیث کښې راځی.

اِیَّاکُمْ وَ مُحْدَثَاتِ الْاُمُوْرِ فَاِنَّ کُلَّ مُحْدَثَۃٍ بِدْعَۃٌ وَکُلُّ بِدْعَۃٍ ضَلَالَۃٌ [مشکوة]

تاسو دنوې نوې خبرو[بدعاتو] راویستلو نه پرهیز اوکړئ ځکه چه هر نوې څیز[په دین کښې راویستل] بدعت او هر بدعت ګمراهی ده.

او په یو بل روایت کښې ورسره دا الفاظ هم نقل دی:

وَکُلُّ ضَلَالَۃٍ فِی النَّارِ [نسائی]

”هرګمراهی اُوریعنی دوزخ ته بوتلونکی ده“.

په یو حدیث شریف کښې داسې هم نقل دی چه الله تعالی د بدعتی سړی [دبدعت کوؤنکی] مونځ،روژه،حج،زکوة (غرض داچه فرض او نفلی څه قسمه) عبادت قبلولو نه انکار کړې دې. کله چه بدعت دومره لویه ګناه ده چه په دې سره دانسان عمل ضائع کیږی نو ددې منکر نه پخپله هم بچ کیدل او نورو ته د بچ کیدو تلقین کول ډیر

ضروری امر دي. په حدیث شریف کښې راځی:

**اِذَا اَحْدَثَ فِیْ اُمَّتِی الْبِدَعُ وَشُتِمَ اَصْحَابِیْ فَلْیُظْهِرِ الْعَالِمُ عِلْمَهُ فَمَنْ لَّمْ یَفْعَلْ فَعَلَیْهِ لَعْنَةُ اللّٰهِ وَالْمَلٰئِکَةِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِیْنَ** [اعتصام]

”کله چه زما په امت کښې بدعات پیدا شی او زما صحابو ته بدرد وئیل شروع شی نو[هغه وخت] عالم ته دخپل علم اظهار[دسنت اوبدعت بیانول او دصحابو دفاع] کول پکار دی بس چه څوک داسې اونکړی نوپه هغه دالله،او دهغه د فرښتو او دټولو خلقو لعنت دې وی“.

یقینًا نن وخت دې چه په معاشره کښې بدعات خواره شوې دی، خو عوام او خواص دمصلحتونو ښکار او دخپل اغراضو او دنیاوی مقاصدو دحاصلولو په خاطر په دې بدعاتو او منکراتو باندې د رد کولو نه سترګې پټوی بلکه رد کول خو پریږده ټخپله په دې مرض کښې مبتلا شوې دی.

**د مسلمانانو دپاره د فکر کولو ساعت !**

بحثیت دمسلمان دې ټولو بدعاتو،خرافاتو،رسوماتو او د رافضیانو عملونو لره پریخودل او په هغوی باندې رد کول په هریو مسلمان باندې فرض دی.د افسوس خبره داده چه خپل ځان ته سنی مسلمان وئیلو والا،خپل د ین لره کامل اومکمل دین ګنړلو والا، دمحمدعربیﷺ د امتی کیدو دعوی کوؤنکې نن د اسلام د پخوانی دشمن وضع شوې

دروغو روايتونو،رسوماتو او بدعاتو لره خپلولو سره خپل دين او ايمان لره مسح کوی.

اې مسلمانانو! آياتاسو مرګ هيرکړې دې؟ په قبرکښې به هغه وخت به تاسو څه جواب ورکوئ کله چه ستاسو نه تپوس اوکړې شی "مَا دِيْنُكَ؟" ته دکوم دين پيروکار وې؟دا ټول خرافات او بدعات او رافضيت پرمخ تګ بوتللو سره! به دقيامت په ورځ د رسول اللهﷺ په مخکښې به څنګه پيش کيږئ. ؟آياتاسو ته اوسه پورې هوش رانغلو؟

او دنن نه ددې خبرې عهد اوکړئ چه دنورو قومونو ړوند تقليد او بدعاتو او رسوماتو لره پريخودلو سره سره دصحيح مسلمان جوړيدو اوصرف دخپل دين وشريعت پابندی به کوئ.

مونږ اهل تشيع حضراتو ته دا اپيل کوو چه فرقه واريت لره پريخودلوسره دقرآن او سنت عقيده خپله کړئ. په خپل قول او فعل کښې ددې دوؤ بنيادونو سيدهاساده تعليماتو لره خپلې مخې ته کيږدئ.چه کومې طريقې په دې کښې درج دی راځې چه يوځاې کيدو سره دې لره خپل کړو. صرف اهل بيت نه بلکه په شمول د اهلِ بيتو ټولو صحابه کرامو سره محبت او احترام په زړه کښې پيدا کړو.مسلمان وئيلو والا په دې اُمت کښې دتعصب او دنفرت تخم کرلو په ځاې دقرآن او سنت رسئ اونيسو. د ثواب خودساخته طريقې چه دصدؤ نه بغير د دليلِ شرعی نه رائج کيدو سره راروان دی، هغې لره

پریږدو  د رسول الله ﷺ د تعلیماتو مطابق ژوند تیر کړو، ځکه چه په دې کښې زمونږ د دین دکامیابۍ راز پټ دې. الله تعالی دې مونږ ته په صحیح دین باندې دتلو توفیق را کړی.آمین ثم آمین

وَاٰخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ